د لوړو زده کړو وزارت

د پکتیکا پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

د نصاب عمومي کمیته

# د تحصیلي نصاب د ارزونې او بیا کتنې پالیسي

کال: ۱۴۰۴ ل.ل

بسم الله الرحمن الرحيم

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

# د مطالبو فهرست


مقدمه ........ 1

لومړۍ ماده: اساس ........ 2

دوهمه ماده: موخې ........ 2

دریيمه ماده: د تطبیق ساحه ........ 2

څلورمه ماده: د نصاب عمومي کميټې تشکیلاتي چوکاټ ........ 2

پنځمه ماده: د کمېټې غونډې ........ 2

شپږمه ماده: د نصاب عمومي کمېټې صلاحیتونه ........ 3

اوومه ماده: د پوهنځیو دندې ........ 3

اتمه ماده: د دیپارتمنتونو دندې ........ 3

نهمه ماده: د نصاب تعقیب او بیا کتنه ........ 3

لسمه ماده: د تحصیلي نصاب د ارزونې معیارونه، ارزښتونه او شاخصونه ........ 4

یوولسمه ماده: د اړتیا سنجی عمومي ذینفعان ........ 4

دوولسمه ماده: د نصاب د بدلون د ساحې او ډول وړاندیز ........ 5

دیارلسمه ماده: د تحصیلي نصاب د تائید اصول او مراجع ........ 5

څوارلسمه ماده: د نصاب د بدلون عمومي اصول ........ 5

پنځلسمه ماده: د نصاب د تطبیق څخه د ارزونې معیارونه او شاخصونه ........ 5

شپاړسمه ماده: د ارزونې د شفافیت او مستند کولو اصول ........ 6

اوولسمه ماده: د نصاب د تطبیق د ارزونې لپاره د ذینفعانو ګډون ........ 6

اتلسمه ماده: د اصلاحاتو پلې کول او څارنه ........ 6

نولسمه ماده: د نصاب د تطبیق څخه د ارزونې د وخت مهالویش ........ 6

شلمه ماده: د درسي موادو تائید ........ 9

یوویشتمه ماده: هغه موارد او معیارونه چې له مخې یې کتابونو او علمي مواد د دائمی هیئت له لورې ارزول کیږي ........ 10

دوویشتمه ماده: انفاذ ........ 10

اصطلاحات: ........ 10

ضمایم: ........ 11



د علمی او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

**مقدمه**

تحصیلي نصاب د هر پوهنتون د علمي هویت، کیفیت او اغېزمنتیا بنسټ جوړوي. د نصاب له لارې نه یوازې علمي پوهه محصلینو ته لېږدول کېږي، بلکې هغه مسلکي وړتیاوې، فکري مهارتونه او ټولنیز مسئولیتونه هم ورسره وده کوي چې فارغان د کار بازار، ټولنې او ملي اړتیاوو ته د ځواب ویلو جوګه کوي. له همدې امله، د تحصیلي نصاب طرحه، تطبیق، ارزونه او دوامداره بیاکتنه د لوړو زده‌کړو له اساسي اړتیاوو څخه ګڼل کېږي.

د علم، ټکنالوژۍ، اقتصادي جوړښتونو او د کار بازار د اړتیاوو پرله پسې بدلونونه دا ایجابوي چې پوهنتونونه خپل تحصیلي نصابونه په منظم، علمي او سیستماتیک ډول وارزوي او نوي کړي، تر څو د وخت له غوښتنو سره سم، معیاري او اغېزمن علمي پروګرامونه وړاندې کړي. د نصاب نه تازه کېدل کولای شي د فارغانو د مسلکي وړتیاوو د کمزورۍ، د بېکارۍ د زیاتوالي او د پوهنتون د علمي اعتبار د ټیټېدو لامل شي.

پکتیکا پوهنتون، د لوړو زده‌کړو وزارت د ستراتیژیو، د اعتباردهۍ د معیارونو او د لېسانس دورې د منظور شوو ملي رهنمودونو په رڼا کې، د تحصیلي نصاب د علمي مدیریت، همغږۍ او کیفیت د تضمین په موخه د نصاب عمومي کمېټې د پالیسۍ تدوین ته اړتیا لري. دا پالیسي د دې لپاره طرحه شوې ده چې د نصاب د ایجاد، ارزونې، بیاکتنې او بدلون بهیر روښانه، معیاري، شفاف او د ټولو ذینفعانو د ګډون پر بنسټ تنظیم کړي.

د نصاب عمومي کمېټه د پوهنتون په کچه د نصاب د پلان جوړونې، همغږۍ، نظارت او علمي لارښوونې رول لري، او هڅه کوي چې د دیپارټمنتونو، پوهنځیو، استادانو، محصلینو، فارغانو، کارفرمایانو او متخصصینو نظرونه د اړتیا سنجۍ له لارې راټول او د نصاب د کیفیت د لوړولو لپاره ترې اغېزمنه استفاده وکړي.

دا پالیسي د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو، نافذه قوانینو، علمي اصولو او د دوامدارې زده‌کړې د مفکورې پر بنسټ جوړه شوې ده، او موخه یې دا ده چې د پکتیکا پوهنتون تحصیلي نصاب د ټولنې له اړتیاوو، د کار بازار له غوښتنو، او د علمي پرمختګ له معیارونو سره په دوامداره توګه همغږی وساتي، تر څو مسلکي، مسؤل او وړ فارغان وروزي چې د هېواد د پرمختګ لپاره اغېزمن رول ولوبوي.

پکتیکا پوهنتون
د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## لومړۍ ماده: اساس

ددې پالیسي بنسټ لاندې موارد تشکیلوي:

1. د لوړو زده کړو وزارت نافذه رهنمودونه؛
2. د لوړو زده کړو د کیفیت لوړاوي معیارونه؛
3. د پکتیکا پوهنتون استراتیژیک پلان.

## دوهمه ماده: موخې

د تحصیلي نصاب د ایجاد او بیا کتنې په برخه کې د پکتیکا پوهنتون موخې عبارت دي له:

1. د تحصیلي نصاب همغږي د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو او ټولنیزو اړتیاوو سره؛
2. د ټکنالوژۍ او مهارتونو د بدلونونو په رڼا کې د ملي، سیمه ییزو او نړیوالو معیارونو سره سم د تحصیلي نصاب عیارول؛
3. د پوهنتون له شته امکاناتو، وړتیاوو او ظرفیتونو سره سم د تحصیلي نصاب همغږي کول؛
4. د نصاب د منظمې ارزونې، بیا کتنې او اصلاح لپاره د واضح چوکاټ رامنځته کول؛
5. د علمي، مسلکي او مهارتي وړتیاوو پر بنسټ د محصلینو روزنه.

## دریمه ماده: د تطبیق ساحه

دا پالیسي د پکتیکا پوهنتون پر ټولو پوهنځیو، دیپارټمنټونو او علمي پروګرامونو د تطبیق وړ ده.

## څلورمه ماده: د نصاب عمومي کمیټې تشکیلاتي چوکاټ

د نصاب د ارزونې عمومي کمیټه له لاندې غړو څخه جوړه شوې ده:

1. د کمیټې رئیس؛
2. د پوهنتون د تحصیلي نصاب د عمومي کمیټې یو غړی د منشي په توګه؛
3. د هرې پوهنځي څخه یو تن د پوهنځي د نصاب د فرعي کمیټې غړی د نصاب د عمومي کمیټې د غړي په توګه ټاکل کېږي؛

یادونه: منشي د کمیټې په لومړۍ غونډه کې د غړو له مینځه ټاکل کېږي.

## پنځمه ماده: د کمېټې غونډې

1. د نصاب عمومي کمېټه د اړتیا پر بنسټ منظمې غونډې ترسره کوي؛
2. فوق‌العاده غونډې د اړتیا په صورت کې د رئیس په غوښتنه دایرېږي؛
3. غونډه هغه مهال رسمي ګڼل کېږي چې د غړو دوه پر دریمه برخه پکې ګډون ولري؛
4. پرېکړې د نافذه اصولو او مقرراتو سره سم نیول کېږي.

3. د هرې پوهنځي څخه يو تن د پوهنځي د نصاب د فرعي کميټي غړی د نصاب د عمومي کميټي د غړي په توګه ټاکل کېږي؛

يادونه: منشي د کميټي په لومړی غونډه کې د غړو له مينځه ټاکل کېږي.

## پنځمه ماده: د کمېټې غونډې

1. د نصاب عمومي کمېټه د اړتيا پر بنسټ منظمي غونډې ترسره کوي؛
2. فوق‌العاده غونډې د اړتيا په صورت کې د رئيس په غوښتنه دايرېږي؛
3. غونډه هغه مهال رسمي ګڼل کېږي چې د غړو دوه پر درېيمه برخه پکې ګډون ولري؛
4. پرېکړې د نافذه اصولو او مقرراتو سره سم نيول کېږي.

## شپږمه ماده: د نصاب عمومي کمېټې صلاحيتونه

د نصاب عمومي کمېټه لاندې صلاحيتونه لري:

1. د تحصيلي نصاب د ايجاد، ارزونې او بيا کتنې د پاليسی تطبيق؛
2. د پوهنځيو او ديپارتمنتونو د نصاب اړوند وړانديزونو ارزونه او علمي تحليل؛؛
3. د نصاب د تطبيق د کيفيت څارنه او ارزونه؛
4. د تحصيلي نصاب د ارزونې لپاره معياري فورمې ترتيب او تحليل کول.

## اوومه ماده: د پوهنځيو دندې

پوهنځي مکلف دي چې:

1. د ديپارتمنتونو د نصاب اړوند وړانديزونو علمي ارزونه وکړي؛
2. د نصاب د اړتيا سنجی بهير تنظيم او همغږي کړي؛
3. د نصاب د تطبيق بهير وڅاري.

## اتمه ماده: د ديپارتمنتونو دندې

ديپارتمنت مکلف دی چې د خپل تحصيلي نصاب د ايجاد او بيا کتنې پر مهال لاندې اصول رعايت کړي:

1. د تحصيلي نصاب د ايجاد او بيا کتنې علمي مسؤليت په غاړه لري؛
2. د علمي اصولو، ملي رهنمودونو او اسلامي ارزښتونو رعايت کول؛
3. د اسلامي امارت نافذه قوانين د لوړو زده کړو موخو او د پکتيکا پوهنتون موخو رعايت کول؛
4. د مسلکي ارزونو او څېړنيزو موندنو څخه استفاده؛
5. د نورو پوهنتونونو او اړوندو علمي ځانګو د متخصصينو له نظرونو ګټه اخيستل؛
6. د استادانو، محصلينو، فارغانو او کارفرمايانو نظرونه راټولول؛
7. د تحصلي نصاب د ايجاد او بدلون له امله د محصلينو پر تحصيلي بهير، د فارغينو په راتلونکو دندو، د لوړو زده کړو پر دوام او د ځانګې د علمي کادرونو پر تخصص د احتمالي اغېزو تحليل او وړاندوينه.
8. د ديپارتمنټ ټول درسي کتابونه چې محصلينو ته تدريس کيږي يو د رسمي ژبو جملې څخه دې په يوه ژبه ورکړل شي.

علمي اړتیا سنجی د پایلو پر بنسټ ترسره کېږي، چې دا فورمې له استادانو، محصلینو، کارفرمایانو، کارکوونکو او متخصصینو څخه راټولېږي.

### لسمه ماده: د تحصیلي نصاب د ارزونې معیارونه، ارزښتونه او شاخصونه

د پکتیکا پوهنتون د تحصیلي نصاب کمېټه د تخصصي رشتو د تحصیلي نصاب د هر ډول ایجاد، بدلون، ارزونې او تصویب لپاره لاندې معیارونه او ارزښتونه په پام کې نیسي:

1. د لوړو زده کړو وزارت او پکتیکا پوهنتون موخې، اصول او ارزښتونه؛
2. د مسلکي او مجرب علمي کادرونو د نظرونو، تجربو او وړاندیزونو ته پاملرنه؛
3. په محصلینو او فارغینو کې د علمي څېړنو د کلتور دودول او پرمختیا؛
4. د ټولنې او کار بازار ته د ننوتلو لپاره فارغین په اړینو وړتیاوو او مهارتونو سمبالول؛
5. د دیني، ملي او اسلامي ارزښتونو ساتنه او درناوی؛
6. د ملي هویت پیاوړتیا او د فردي، اخلاقي، علمي او مسلکي ارزښتونو وده؛
7. د اخلاص، تقوا او د نېکو عادتونو د دودولو روحیه پیاوړې کول؛
8. د مسلکي کادرونو د روزنې ته پاملرنه او د اسلامي ارزښتونو سره ژمنتیا؛
9. د اسلامي وروروولی، یووالي، زغم، همکاری، خدمت‌گذاری، متقابل درناوي او ایثار د روحیې پیاوړتیا؛
10. د شرعي احکامو په رڼا کې د ژوند کولو او د سالم فکر د ودې پیاوړتیا؛
11. د دیني او عصري علومو ترمنځ د توازن رامنځته کول، د دیني اصولو او د عصري ژوند د اړتیاوو پر بنسټ؛
12. د انسان د روحي، فکري او جسمي اړتیاوو ترمنځ د توازن پیاوړتیا د وحي او الهي احکامو پر اساس.

### یوولسمه ماده: د اړتیا سنجی عمومي ذینفعان

د اړتیا سنجی فورمې په لاندې کسانو وېشل کېږي:

1. استادان؛
2. محصلین؛
3. کارفرمایان او متخصصین؛
4. فارغان.

**دوولسمه ماده: د نصاب د بدلون د ساحې او ډول وړاندیز**

د پوهنتون شمول مضامینو پرته (چې شمېر او ډول یې د ملي نصاب کمېټې له خوا ټاکل کېږي)، د پوهنتون د نصاب کمېټه د اړوندو دیپارتمنتونو په همکارۍ کولی شي د هرې پوهنځي د ښوونیزې اړتیا سنجی د فورمونو د وېش او تحلیل، د دې پالیسي د موادو، د کریدت لایحې او د لېسانس دورې د مقررو په رڼا کې، د تخصصي رشتو د تحصیلي نصاب د بیاکتنې، تعدیل او بدلون لپاره اقدام وکړي.

**دیارلسمه ماده: د تحصیلي نصاب د تائید اصول او مراجع**

د تحصیلي نصاب تصویب د اړوندو علمي مراجعو له لوري د نافذه اصولو او مقرراتو سره سم ترسره کېږي.

۱. د تحصیلي نصاب طرحه، ارزونه او تائید د اړوند ډیپارټمنټ په کچه.

۲. د تحصیلي نصاب ارزونه او تائید د پوهنځي د نصاب کمېټې له لوري.

۳. د تحصیلي نصاب تائید د پوهنځي د علمي شورا له خوا.

۴. د تحصیلي نصاب ارزونه او تائید د پوهنتون د نصاب کمېټې له لوري.

۵. د تحصیلي نصاب شرعي او اسلامي ارزونه د اړوند علمي کمېټې له خوا.

۶. د تحصیلي نصاب تائید د پوهنتون د علمي شورا له لوري.

۷. د تحصیلي نصاب تائید د لوړو زده کړو وزارت د نصاب د ملي کمیسیون له لورې.

**څوارلسمه ماده: د نصاب د بدلون عمومي اصول**

د بیاکتنې او اړتیاوو له تشخیص وروسته، که د نصاب د اساسي یا ټولیز بدلون اړتیا موجوده وي، او یا د نوې تخصصي رشتې لپاره د نصاب د تدوین پر مهال، دیپارتمنت کولی شي د نصاب د بیاکتنې یا تدوین لپاره اقدام وکړي، او دا دنده د نصاب کمېټې او دیپارتمنتونو ته سپارل کېږي، او ټول موارد یې د لوړو زده کړو وزارت د لیسانس برنامو د تحصیلي نصابونو د انکشاف، ارزونې او تدوین د رهنمو په اساس تنظیم کېږي، د نصاب د بیاکتنې بهیر د مسلکي او مجرب علمي کادرونو له لوري ترسره کېږي.

**پنځلسمه ماده: د نصاب د تطبیق څخه د ارزونې معیارونه او شاخصونه**

1. د ارزونې معیارونه:

- د اسلامي، کلتوري او ملي ارزښتونو رعایت.
- د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون اهداف او اصول.
- د محصلینو علمي، مسلکي، او مهارتي وړتیاوې لوړول.
- د ټولنې، کار بازار او لوړو زده‌کړو د اړتیاوو سره همغږي.

2. د ارزونې شاخصونه:

- د تدریسي د موادو کیفیت.
- د تدریس مؤثریت او د محصلینو د پوهې کچه.

پوهنتون ... د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs

- د درسي پلانونو، درسي موادو، او مفرداتو سره د تطابق سطحه.
- د نصاب د تطبیق د پرمختګ کچه.

## شپاړسمه ماده: د ارزونې د شفافیت او مستند کولو اصول

1. مستند راپورونه: د هرې ارزونې پروسې په اړه مستند راپورونه جوړول. دا راپورونه باید د پوهنتون اړوند برخو سره په وخت شریک شي.

2. شفافیت: د ارزونې پروسه باید شفافه وي، ټولې ښکېلې خواوې (محصلین، استادان) باید پوه شي چې ارزونه څنګه ترسره شوې او کوم اصلاحات پلي شوي دي. د اصلاحاتو اړوند راپورونه باید د پوهنتون اړوند غونډو ته وړاندې شي.

## اوولسمه ماده: د نصاب د تطبیق د ارزونې لپاره د ذینفعانو ګډون

1. ذینفعان: استادان او محصلین

2. د ذینفعانو نظرونو راټولول: د ارزونې بهیر باید د ذینفعانو نظرونه د تائید شویو فورمونو له لارې راټول کړي ترڅو د ارزونې د پایلو د تحلیل لپاره یو دقیق او جامع ځواب ترلاسه شي.

## اتلسمه ماده: د اصلاحاتو پلي کول او څارنه

1. د اصلاحاتو پلان او پلي کول: د ارزونې پایلو پر اساس د اصلاحاتو پلان جوړول، او دا اصلاحات باید په سمستر کې عملي شي، او د دې اصلاحاتو څارنه د محصلینو د بیا فیډبیک پر بنسټ ترسره شي.

2. د اصلاحاتو د تطبیق څارنه: د اصلاحاتو د پلان پر اساس د کیفیت دوامداره څارنه به د پوهنتون د رهبرې لخوا ترسره شي.

## نولسمه ماده: د نصاب د تطبیق څخه د ارزونې د وخت مهالویش

1. د ارزونې مهالویش: د ارزونې پروسه باید د سمستر په پیل کې پلان شي او د نصاب د مؤثر تطبیق د تضمین لپاره، ارزونه باید د سمستر د پیل، جریان او پای په درې مرحلو کې ترسره شي، د استادانو تدریسي مواد دې د سمستر په جریان کې وڅارل شي.

2. د راپور ورکولو مهالویش: د ارزونې پایلې (د فرعي او عمومي کمیټو د ارزونې پایلې) باید د هرې ارزونې څخه وروسته د عمومي کمیټې سره شریکې شي، د اصلاحاتو راپورونه باید د هر سمستر په مینځ کې وړاندې شي.

د نصاب د عمومي کمېټې له لوري به د سمستر په پیل کې ارزونه ترسره کېږي. دغه ارزونه به د کمېټې له وروستی پرېکړې وروسته، د یو منظم مهال وېش له مخې ترسره کېږي، او هغه مهال به د ترسره کېدو وړ وي چې پوهنځي د ارزونې له پروسې سره په جریان کې وي.

نوټ: د اړتیا په صورت کې د پوهنتون د رهبرۍ د پرېکړې او یا هم د نصاب د عمومي کمیټې د پرېکړې په اساس کېدلای شي چې د ارزونې د فورمونو په مواردو کې تغیرات راشي.

پوهنتون پکتیکا
د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

د سمستر د پیل ارزونې فورمه:

د لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

د نصاب عمومي کمېټه

د سمستر د پیل د درسي موادو د ارزونې فورمه

ځانګه: (                    )، ټولګی:(          )، مضمون:(                              )،

سمستر:(          ) نېټه:(    /    /   ۱۴۰ )

| ګڼه | ارزونې موضوعات | هو | نسبتاً | نه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ایا استاد د تدریس دبهبود پلان(TIP) لري؟ | | | | |
| ۲ | ایا د تدریس دبهبود پلان(TIP) د پایلو پر اساس جوړ شوی دی؟ | | | | |
| ۳ | ایا مضمون کورس پالیسي لري؟ | | | | |
| ۴ | ایا کورس پالیسي محصلینو ته تشریح شوې ده؟ | | | | |
| ۵ | ایا د مضمون کورس پالیسي د OBE-SCL په فارمټ جوړه شوې ده؟ | | | | |
| ۶ | ایا درسي مفردات د کورس پالیسي او کریکولم سره مطابقت لري؟ | | | | |
| ۷ | ایا مهالویش شتون لري؟ | | | | |
| ۸ | ایا د درسي نصاب منځپانګه نوې او اپډېټ ده؟ | | | | |
| ۹ | ایا په کورس پالیسي کې میتودونه او موخې روښانه شوې؟ | | | | |
| ۱۰ | ایا استاد درسي مواد(کتاب، چپتر، او داسې نور) له محصلینو سره شریک کړي دي؟ | | | | |

د ارزوونکو نوم او لاسلیک

علمي معاونیت تائیدي

-۱

-۲

د سمستر په جریان کې د ارزونې فورمه:

# د لوړو زده کړو وزارت
# پکتیکا پوهنتون
## علمي او محصلانو چارو معاونیت
## د نصاب عمومي کمېټه
### په ټولګیو کې د تدریس ارزونې فورمه

پوهنځی (　　　)، څانګه (　　　)، ټولګی(　　　)، سمستر (　　　)، نېټه (　　/　　/ ۱۴۰۴)

قدرمنو محصلینو! دا ارزیابي د پوهنتون د نصاب عمومي کمېټې لخوا تر سره کېږي، تر څو د تدریس کیفیت لا ښه شي، نو بناً تاسو څخه په ډېر درښښت هیله کوو چې په پوره صداقت سره یې ځواب کړئ.

د استاد نوم: (　　　)، مضمون (　　　)، علمي رتبه: ن پوهنیار(　)/ پوهنیار (　)/ پوهنمل(　)/ پوهندوی(　).

| شمېره | سوال | هو | نسبتاً | نه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ایا استاد په خپل وخت ټولګي ته راځي؟ | | | | |
| ۲ | ایا استاد یواځې لکچر میتود څخه استفاده کوي او که نورو فعاله محصل محوره مېتودونولکه( مباحثه، ګروپي کار، جیکساو.......) میتودونو څخه هم استفاده کوي | | | | |
| ۳ | ایا تاسو تر اوسه په لابراتوار کې عملي کار ترسره کړی دی؟( چې عملي کار ولري) حیواني علوم، باغداري، ریاضي، کېمیا، بیولوژي او فزیک څانګې | | | | |
| ۴ | ایا تاسو ته استاد د پوښتنې کولو وخت درکوي؟ | | | | |
| ۵ | ایا تاسو ته استاد د درس اړوند د نظر شریکولو وخت درکوي؟ | | | | |
| ٦ | د مضمون موضوعات چې تاسو ته یې استاد تدریسوی، روښانه موخې لري؟ | | | | |
| ۷ | ایا تاسو ته استاد کورنۍ دندې په خپل وخت درکوي؟ | | | | |
| ۸ | ایا درسي مفردات له کورس پالیسي سره مطابقت لري؟ | | | | |
| ۹ | ایا له اونۍ سره سم مفردات تدریس کېږي؟ | | | | |
| ۱۰ | استاد په تدریس کې د الکترونیکي وسایلو لکه( پروجکټور، LCD H او .....) څخه استفاده کوي | | | | |
| ۱۱ | په عمومي ډول تاسو د خپل استاد له تدریس څخه رضایت لرئ؟که مو ځواب نه وي دلیل یې لاندې ولیکئ؟ | | | | |

| لا ښه تدریس لپاره وړاندیزونه: |
|---|
| |

د سمستر په پای کې د ارزونې فورمه:

## د لوړو زده کړو وزارت
## پکتيکا پوهنتون
## علمي او محصلانو چارو معاونيت
## نصاب عمومي کمېټه
## په ټولگيو کې د نصاب د تطبيق ارزوني فورمه

پوهنځی (            )، څانگه (            )

د استاد نوم: (            )، علمي رتبه: ن پوهنيار (    )/ پوهنيار (    )/ پوهنمل (    )/ پوهندوی (    )

| شمېره | مضامين | کرېډيټ شمير | د تدريس شوي مفرداتو اونی | د رواني اونی درسي مفردات | درسي پروگرام د رسېدني سلنه | ټول درسي کتاب يا چپتر صفحو شمير | تدريس شوي صفحي | پاتي صفحي | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | | | |

د نصاب د تدريس تطبيق سلني معلومول له کريکولم سره $= 100 \times \frac{\text{د رواني اونی درسي مفردات}}{\text{د تدريس شوي مفرداتو اونی}}$

د ارزيابي کوونکو استادانو نوم او لاسليک:

**شلمه ماده: د درسي موادو تائيد**

ټول تدريسي کتابونه او درسي مواد چې د نصاب د ټاکل شويو مفرداتو سره سم تهيه شوي وي د پوهنتون د دائمي هيئت له لورې تائيد شي او د تائيد څخه وروسته د تدريس وړ گرځي، د درسي کتابونو تائيد به د لوړو زده کړو وزارت (د پوهنتونونو د درسي، تحقيقاتي او مطالعاتي کتابونو د ارزولو د لارښود) سره سم ترسره شي.

**يوويشتمه ماده: هغه موارد او معيارونه چې له مخې يې کتابونو او علمي مواد د دائمی هیئت له لورې ارزول کيږي**

د شرعي احکامو او اسلامي امارت له پالیسی سره د مطابقت په موخه، د پوهنتون کتابونه او علمي مواد د لاندې معيارونو او موارد و په نظر کې نيولو سره کتل کيږي:

١ .له عقيدوي پلوه؛

٢ .له فکري او فرهنگي پلوه؛

٣ .له مذهبي او اخلاقي پلوه؛

۴ .له علمي پلوه؛

۵ .د اسلامي امارت له پالیسی سره. پورته موارد لکه عقيده، فکر، فرهنګ، اخلاق، مذهب او د اسلامي امارت پالیسي ته په کتو سره به ځيني کتابونه تاييديږي، ځيني به د اصلاح وړ بلل کېږي او ځيني به ردېږي.

**دوويشتمه ماده: انفاذ**

دا پاليسي د پکتيکا پوهنتون د علمي شورا د تائيد څخه وروسته د اجرا او تطبيق وړ ده.

**اصطلاحات:**

**اړتيا (نيازسنجی):** اړتيا پېژندنه د نصاب د تدوين، بيا کتنې او اصلاح يوه بنسټيزه علمي پروسه ده، چې د ټولنې او د کار بازار اړتياوې پکې ځېړل کېږي او د علمي تحليل او اسنادو پر بنسټ د تحصيلي نصاب د اصلاح اړتيا څرگندېږي. اړتيا پېژندنه بايد د محصلينو، د کار بازار او ټولنې اړتياوو ته ځواب ووايي.

**لومړی:** ايا په ټولنه او د هېواد د کار بازار کې د دې نصاب فارغانو ته دوامداره او مؤثره اړتيا شته؟

**دوهم:** ايا د نصاب د تطبيق لپاره لازم امکانات او واقعي شرايط شته؟ لکه: درسي منابع، بشري سرچينې (استادان)، قانوني صلاحيت، کافي وخت، تر څو فارغان وکولای شي د ټاکل شوو موخو سره سم وروزل شي؟ د اړتيا پېژندنې بهير د بېلابېلو لارو ترسره کېږي، لکه: د پوهنتليکونو وېش، مرکې، د استادانو او وروستيو کلونو د فارغ شويو محصلينو سره ناستې، د اړوندو ادارو له استازو سره مشورې، او د څو موډلونو ګډه استفاده، تر څو هر اړخيزه پايله تر لاسه شي.

- دا پاليسي په (٢٢) مادو کې ترتيب شوې ده د پکتيکا پوهنتون د نصاب کمېټې په ( ۱۰ )گڼه او ۲۸/ ۱۰ / ۱۴۰۴ نېټې غونډه کې تائيد شوې ده.

ترتيب کوونکی

پوهنيار احمدضيأ اميني

پوهنمل محمديوسف واخديار

د علمي او محصلانو چارو مرستيال

- دا پاليسي په (٢٢) مادو کې ترتيب شوې ده د پکتيکا پوهنتون د علمي شورا په ( ۱۰ )گڼه او ۷/ ۱۱/ ۱۴۰۴ نېټې په غونډه کې تائيد شوې ده.

الحاج مولوي سيد محمد داود اغا الهاشمي

پکتيکا پوهنتون رئيس

## ضمایم:

### د استادانو او فارغینو لپاره د نصاب د اړتیا سنجي پوښتنلیک

قدرمن ځواب ورکوونکې!

له مخکې څخه د دې پوښتنو د ځوابولو لپاره ستاسو د پاملرنې او وخت څخه مننه کوو. دا فورم د محصلینواو استادانو څخه د اړتیا سنجي په موخه ترتیب شوی دی. هېله ده د دقیقو پایلو د ترلاسه کولو لپاره لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

د تحصیل درجه (............................)                دنده (............................)

۱ .آیا د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي درسي کریکولم د کار بازار له اړتیاوو سره سمون لري؟

هو ( ) نه ( )

که ستاسو ځواب «نه» وي، مهرباني وکړئ خپل وړاندېزونه ولیکئ:

وړاندېزونه:

۲ .ستاسو په اند د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي په درسي کریکولم کې کوم مضمونونه باید بدلون ومومي؟

ولیکئ:

۳ .د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي په کوم مضمون کې د کریډت د زیاتوالي یا کمښت اړتیا شته؟

ولیکئ:

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمي و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

**د ذینفعانو لپاره د نصاب د اړتیا سنجی پوښتنلیک**

قدرمن ځواب ورکوونکي!
له مخکي څخه د دي پوښتنو د ځوابولو لپاره ستاسو د پاملرني او وخت څخه مننه کوو. دا فورم د محصلینو، استادانو، فارغانو او کارفرمایانو څخه د اړتیا سنجی لپاره ترتیب شوی دی. مهرباني وکړئ لاندي پوښتنو ته د دقیقو پایلو د ترلاسه کولو لپاره ځواب ورکړئ.

د تحصیل درجه(............................)          دنده (............................)

١ .تر کومي کچي د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي فارغان په خپلو کاري چارو کي بریالي دي؟

١٠٠٪     ٧٥٪     ٥٠٪     ٢٥٪

٢ .آیا د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي د فارغانو علمي ورتیاوي ستاسو د اداري د کاري اړتیاوو پوره کوونکي دي؟

هو  (   )          نه (   )

٣ .آیا د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي درسي کریکولم د کار بازار له اړتیاوو سره سمون لري؟

هو  (   )          نه (   )

که ستاسو ځواب «نه» وي، مهرباني وکړئ خپل وړاندیزونه ولیکئ:
وړاندیزونه:

٤ .ستاسو په اند د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي په درسي کریکولم کي کوم مضمونونه باید بدلون ومومي؟
ولیـکئ:

٥ .د ................ دیپارتمنت د ................ پوهنځي په کوم مضمون کي د کریدیت د زیاتوالي یا کمښت اړتیا شته؟

ولیـکئ:

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University